دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

آیا انسان گمان کوي چې مهمل او بابیزه پرېښوول شي؟ آیا دهغې مني چې په (رحم کې) توی شوی یو څاڅکی نه و؟ بیا د وینې یوه توټه وه، الله پاک پیدا او ښه برابر یې کړ. او له همده څخه یې د نر او ښځې جوړه وراندې کړه. آیا همدغه ذات توانا نه دی چې مړي راژوندي کړي؟ هو توان ورسره شته. (الدهر: ۳۵ - ۴۰ آیتونه)

درس حدیث

له معاویه رضی الله عنه نه روایت دی چې ما عائشې رضی الله عنها ته یو لیک ولیږه چې ماته داسې یو لیک ولیکه چې څه نصیحت پکې راته وکړې او زیاتوه یې مه. نو هغې راته ولیکل: په تا دې سلام وي، له سلامه وروسته خبره داده چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې فرمایل یې: "چا چې د خلکو په ناراضه کولو کې د الله رضا ولټوله نو د خلکو له کړاوه به ورته الله بس شي او چا چې د الله په ناراضه کولو کې د خلکو رضا ولټوله نو الله به یې خلکو ته ور وسپاري" او په تا دې سلام وي. (ترمذي)

شهادت | دربیم کال، ۵ مه گڼه، پرله پسې ۱۰۵ مه گڼه | چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د غویی ۷ مه | د۱۴۳۲ هـ ق د جمادی الاول ۲۴ مه | د۲۰۱۱ م د اپریل ۲۷ مه

والی کندهار میگوید که ۴۷۵ زندانی سیاسی از زندان فرار نموده اند

کندهار، پژواک:
والی کندهار پذیرفت که ۴۷۵ زندانی سیاسی، از زندان مرکزی این ولایت فرار نموده اند.
توریالی ویسا والی این ولایت به تاریخ ۵ ثور در یک نشست خبری گفت که طالبان مسلح برای نخستین بار از تکتیک جدید استفاده نموده اند.
وی علاوه نمود که طالبان مسلح، از یک منزل در مسیر شاهراه کندهار - هرات در منطقه سرکوزی مربوط شهر کندهار به طرف زندان تونل کشیده بودند.
به گفتهٔ والی، این تونل از منزل یادشده، الی یک اتاق در زندان کندنکاری گردیده بود، که در آن زندانیان سیاسی، نگهداری میشدند.
وی علاوه نمود: "این موضوع یک هفته یا یک ماه نیست، بلکه برای آن، طالبان مسلح از چند ماه بدینسو کار نموده بودند."
توریالی ویسا گفت که در این رویداد ۴۷۵ زندانی فرار نموده که صرف یکی آن جنایی و متباقی آنان زندانیان سیاسی اند.
نامبرده ادعا نمود که یکتعداد زندانیان فراری را دوباره دستگیر نموده اند؛ اما در مورد تعداد مشخص آن معلومات نداد. به همین ترتیب والی از مردم خواست، تا در دستگیری متباقی آنها همکاری نمایند.
وی علاوه نمود که نیروهای

بقیه در صفحه ۴

امریکایي مقاماتو آی ایس آی تروریستي ډله ونوموله

امریکا، رسنۍ:
د گوانتنامو د زندان مقاماتو د پاکستان استخباراتي اداره آی ایس آی د حماس په شمول د نورو نړیوالو وسله والو ډلو په څنگ کې یوه تروریستي ډله بللې ده.
د دې خبرې یادونه په هغو پټو سندونو کې راغلې چې ویکي لیکس افشا کړي دي.
ویل کېږي چې دا موضوع به ښایي د پاکستان د استخباراتي اداري او د سي آی اي یا د امریکا د مرکزي استخباراتي اداري ترمنځ له مخکې خړپړ شوي اړیکي نور هم ستونزمن کړي.
ویکي لیکس ویبپاڼې، چې تراوسه پورې په زرگونو پټ ډیپلوماتیک

پاتې ۴ مخ

د پکتیا والي جمعه خان همدرد له چاودنې روغ ووت

جمعه خان همدرد و، خو هغه ته په کې زیان نه دی رسېدلی.

گردېز، پژواک:
د پکتیا د والي جمعه خان همدرد د ساتونکیو پر موټر ماین چاودنې درې پولیس او یو ملکي وگړی ټپیان کړل.
د پکتیا د والي ویاند روح الله سمون د غویي په ۶مه پژواک خبري اژانس ته وویل، چې پرون سهار ۸نیمې بجې د ولایت دروازې ته مخامخ د سړک پر غاړه په یوه گل دان کې ځای پرځای شوی ماین وچاودېد.
د نوموړي په وینا، چې په دې چاودنه کې د والي درې ساتونکي ټپیان شوي، خو د والي موټر د پېښې له ځای څخه لږ مخکې تېر شوی و.
هغه وایي، چې د دې چاودنې موخه والي

پاتې ۴ مخ

بارک اوباما با مقامات ارشد امنیتی اش در بارهٔ افغانستان و پاکستان گفتگو کرد

امریکا، رسانه ها:
باراک اوباما رییس جمهور ایالات متحده امریکا روز دوشنبه در راستای بررسی منظم ستراتیژی افغانستان و پاکستان با مقامات امنیت ملی و استخبارات امریکا ملاقات کرد.
آژانس خبری فرانسپرس گزارش می دهد که این جلسه در اتاق بررسی وضعیت در قصر سفید یا سچویشن روم در حالی بر گزار شد که گفته می شود در مبارزه علیه تندروان مسلح در سرحد افغانستان و پاکستان از اختلافات میان واشنگتن و اسلام آباد سخن زده می شود.
قصر سفید می گوید: در این جلسه علاوه بر رییس جمهور اوباما، رابرت گیتس وزیر دفاع، تام دانلن مشاور امنیت ملی، سوزان رایس نماینده دایمی امریکا در ملل متحد و جیمز کلپر رییس استخبارات ملی امریکا در اتاق بررسی وضعیت حاضر بودند.
جوبایدن معاون رییس جمهور، جنرال دیوید پترویس قوماندان عمومی قوای بین المللی در افغانستان و سفرای ایالات متحده در افغانستان و پاکستان از طریق ویدیو کنفرانس در این جلسه اشتراک داشتند.
انتظار می رود که رییس جمهور اوباما روی آغاز خروج سربازان امریکایی از ماه جولای روی سفارش های مقامات اردو غور و بررسی را آغاز کند.
اما جی کارنی سخنگوی مطبوعاتی اوباما گفته است، جلسه روز دوشنبه جلسهء برای تصمیم گیری نبود بلکه غرض بررسی پالیسی بود که هر از چند گاهی دایر می شود.

بقیه در صفحه ۴

د ثور اتمه

عبیدالله صافی

د ثور اتمه د افغانستان د تاریخ یوه بله طلایي ورځ ده، دا هغه ورځ ده چې د ډاکتر نجیب کمونست رژیم نسکورېږي، افغانان یو ځل بیا د پردیو د گوډاگیو او دهغوی له کمونستي افکار څخه نجات ترلاسه کوي، د افغانستان مجاهد ولس سرلوړي او کمونستان د حق د سپاهیانو په وړاندې سرنگون کېږي. هغه افغانستان چې د کریملین واکدارانو د روسیې د خاورې یوه حصه گڼله او غوښتل یې چې پخپلو گنده کمونستي افکارو ولړي د پنځلسو لکو مجاهدینو د قربانیو په نتیجه کې د هغوی له ذهني غلامۍ نه آزاد شو.
په دې کې هېڅ شک نشته چې استقلال او آزادي د نړۍ د هر ولس حق دې خو دا ځاني او مالي قربانیو پرته نشي ترلاسه کېدلې ځکه خو هوښیارو قیادتونو او ولسونو تل د خپلې عقیدې او خاورې استقلال ته لومړیتوب ورکړې دی، ټول هغه وسایل او مهمات یې برابر کړي دي چې د یو هېواد د ولس د عقیدې او خاورې د مؤثرې دفاع لپاره اړین دي، خو له بده مرغه افغان ولس او قیادتونو کله هم په دې اړه ژور فکر او غور نه دی کړې بلکې همیشه د فیل په غوږونو کې ویده پاتې شوي دي، نه یې د خپلې عقیدې د ودې او پیاوړې کولو لپاره هلې ځلې کړي او نه هم اقتصاد، دفاع، ساینس، صحت، تعلیم، زراعت، تجارت او سیاست په ډگر کې څه پرمختگونه کړي دي، په داسې حال کې چې د هېواد دفاع او استقلال د ساتلو لپاره په دغو ډگرونو کې پرمختگ حیاتي ارزښت لري، که څه هم افغانانو د تاریخ په اوږدو کې د خپلې خاورې او عقیدې دفاع په میړانه کړې او د خپلو لکونو ککریو په نذرانه کولو سره هر باطل ځواک او فکر ته ماته ورکړې مگر پوښتنه دا ده چې تر څو به د اوسپنې او غوښې ترمنځ دغې جگړې ته خپلې سینې وړاندې کوو او تر څو به د ټانک، توپ، بم او توغندیو مخه د خپلو سرونو په وړاندې کولو سره نیسو؟! آخر د ساینس او ټکنالوژۍ هغه آسانه لاره ولې نه غوره کوو چې د دومره لویو ځاني قربانیو له ورکولو څخه مو ژغوري؟

پاتې دریم مخ

د افغانستان د لانجې د حل وروستي پیچومې دویم مخ

له زده کړو بې برخې کول مادي او معنوي غمیزه دریم مخ

ولسي جرگې د روان کال بودیجه بیا رد کړه

کابل، رسانه ها:
د ولسي جرگې غړو له ډیرو بحثونو او ناندریو نه وروسته د روان لمریز کال لپاره د مالیې د وزارت له خوا وړاندیز شوې بودیجه د دوهم ځل لپاره رد کړه.
د دې جرگې غړي وایي، چې په عادي او پراختیایي بودجې کې ډیرې ستونزې شته او د افغانستان په سطح د پروژو په برخه کې په کې لازم توازن یا انډول په پام کې نه دی نیول شوی.
د ولسي جرگې د دوشنبې ورځې په عمومي غونډه کې وکیلانو ویل، چې د ۱۳۹۰ لمریز کال په بودیجه کې د مالیې وزارت له خوا نوي کابل بانک ته د درې اویا میلیونه ډالرو پور په پام کې نیول، د بیارغونې په پروژو کې نه توازن او نه همآهنگي، د دې هېواد په

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ثور اوومه زموږ د معاصر تاریخ یو خونړی باب

د غویی اوومه هغه ورځ ده چې ملحدو کمونستانو په دې ورځ د خپلو روسي بادارانو په اشاره د یو پوځي کودتا په ترځ کې د انسان وژنې او تباهی یو قوي بنسټ کېښود، د قرآن کریم او نبوي احادیثو د له منځه وړلو یو ناولې پروسه یې پیل کړ، د با ایمانو، با ضمیرو، دین خوښو او له خپل هېواد او اسلامي فرهنګ سره مینه لروونکو هېوادوالو پر وژنو لاس پورې کړ، پر محمد صلی الله علیه وسلم د درود د لېږلو پر ځای پر لینن مارکس او ستالین درود ووایه، الله جل جلاله ته د کبیر ویلو پر ځای لینن ته کبیر وویل، پخپلو ټولو غونډو او مجلسونو کې به درود بر لینن کبیر شعار ورکاو، قرآن کریم ته د زړو کیسو کتاب او محمد صلی الله علیه وسلم ته د زړې زمانې لېږر ویل. د اسلام د سپېڅلی دین په اړه به یې ځغرده ویل چې دا د نوی زمانې ضرورتونه نشي پوره کولې او دا ددې وړتیا نه لري چې عمل ورباندې وشي.

د ثور کودتا په حقیقت کې د افغانستان مسلمان ولس، اسلام، فرهنګ، خاوره او استقلال په خلاف داسې یو سور توپان و چې هر څه یې لاهو کول غوښتل، ملحدو او بې ننګو کمونستانو خپل دغه ناولي هدف ته د رسېدو لپاره د خپلو بادارانو په مرسته خپل ټول شته امکانات او وسایل په کار واچول، په لکونو بې ګناه هېوادوال یې ووژل خو بیا هم زړه یې یخ نه شوه، دې لپاره چې دا کار په چټکی سره ترسره کړي او افغانستان خپلو روسي بادارانو ته وسپاري روسي یرغلګرو پوځیانو ته بلنه ورکړه چې افغانستان اشغال کړي، خو د کریملین واکدارانو او دهغو بریځو ته دا نه و معلوم چې د افغانستان مسلمان ولس د تاریخ هغه اتلان او زمریان دي چې د وخت هر فرعوني یرغلګر ته یې غاښ ماتوونکی ځواب ورکړی دی، په دې غیرتي خاوره کې نه د سکندر پښې ټینګی شوي دي او نه هم د چنګیز، هلاکو او مکناټین، هر څوک چې د افغانستان د پاکې خاورې د نیولو لپاره راغلي هغه لپاره قبرستان جوړ شوې او پاتې نور په پوره بې غیرتی د ګیدړانو په څېر په منډه تښتېدلي دي.

بالآخر روسي یرغلګر پوځ او دهغه ګوډاګیان هم د اوږدې جګړې وروسته له یو داسې تاریخي ماتې سره مخامخ شول چې مخکینې ټول ریکارډونه یې مات کړل، هغه شوروي اتحاد دړې وړې شوه چې د څو جماهیرونه متشکل شوې و، د برلین دیوال مات او ټول اشغال شوي هېوادونه د افغانستان د قهرمان ولس د قربانیو له برکته د خپلواکي خاوندان شول، هغه امریکا او اروپا چې د شوروي اتحاد تر مستقیم ګواښ لاندې وه او هر لورې تربنه کمونستي هېوادونو د ګواښ دیوالونه تاو کړي وو، نکاراګوا، کیوبا، پولینډ او هنګري په څېر هېوادونو کې ورته خپلې اډې جوړې کړې وې، د افغانستان د پنځلسو لکو قهرمانو مجاهدینو د نه هېریدونکو قهرمانیو له کبله د روسیې له دغې لوی خطرې نه په امن کې پاتې شول.

ټوله نړۍ په ځانګړې توګه امریکا او اروپا دې دا تاریخي واقعیت ومنې چې افغانانو ددومره لوی قرباني په ورکولو سره په نړیوالو ډېر لوی احسان کړېدی، دا د افغانانو د شهامت او زړه ورتیا له لامل و چې ګردی نړۍ ته د وېښتابه او جرئت احساس ورکړ، ویده ضمیرونه یې ویښ او مړی جذبې ورته بېرته ځواني کړې، ټولو اشغال شویو هېوادونو ولسونو ته یې دا الهام ورو ښایه چې روسي یرغلګرو پوځونو په خلاف کامیاب جهاد نه یوازې دا چې ممکن دی بلکې بري هم یقیني دی.

نړیوال باید په دې خبره غور وکړي چې د روسیې سره امپراطورۍ د شر او دهغې له خطرناکې استعماري نقشې نه د نړیوالو د ژغورلو او خنثی کولو لپاره افغانانو کوم بې سابقه او نه هېرونکی قرباني ورکړې دا واقعاً د قدر وړ دی. که افغانانو ته شاباسی نشي ورکولی او د افغانستان د بیارغاونې لپاره مرستې نشي کولې نو زموږ د هېواد د اشغالولو او دلته د جنګ جګړو د اور بلولو لپاره دې پخپلو کې نه اشر کېږي، همدغه راز د افغانستان ټول مشران او چارواکی دې هم داسې عاقبت نااندیش ګامونه نه اوچتوي چې د افغانستان سالمیت او استحکام له خطر سره مخامخوي، که نور هېوادونه د افغانستان د مسلمان ولس د پنځلسو لکو ککرو نذرانو ته په درنښت نه ګوري، نو لږ تر لږه د افغانستان مشران خو دې داسې نه کوي، هغوی دا قرباني په دې ارمان ورکړي چې د قیامت تر ورځې افغانستان یو مستقل خپلواک اسلامي هېواد پاتې شي او د اسلام د سپېڅلی نظام پرته د بل څه حاکمیت پکې نه وي.

راځئ ټول افغانان په ګډه له خپل پالونکی ذات سره لوړه وکړو چې لکه څنګه مو د افغانستان په خاوره کې د کمونستانو د هرې کودتا او دهغوی بادار روسي اشغالګر ځواکونه مو خنثی کړل، همداسې راتلونکی لپاره هم خپله خاوره د پردیو له اشغال نه خلاص او د یو آزاد قوم په توګه د اسلام د سپېڅلی قانون لاندې خپل ژوند تېر کړو.

په الله قسم چې زموږ ورونو، پلرونو، نیکونو، خویندو، میندو، کشرانو او مشرانو دومره لوی قرباني یوازې او یوازې ددغه ارمان د تحقق لپاره ورکړې دی چې پاتې نسل دهغوی په څېر د خپل دین، خاوره او استقلال د ساتنې لپاره هر وخت چمتو وي او داسې کوم غفلت ونه کړي چې د پنځلسو لکو شهیدانو په وینه ګټل شوې استقلال له لاسه ورکړي، د الهي دین پر ځای د طاغوتي نظامونو طوق په غاړه واچوي او په دې توګه خپله دنیا او آخرت تباه کړي.

د افغانستان د لانجې د حل وروستي پېچومې

لیکوال: سلیم صافی

ژباړه: محمد خلیل

د یوولسم سپتمبر له پېښې وروسته دا سیمه ولې په دوزخ بدله شوه؟ په ښکاره د تش لاسو مخالفینو په مقابله کې د امریکا، پاکستان او افغانستان حکومتونه ولې ناکام دي؟

ددغو پوښتنو په اړه مو چې څومره غور وکړ نو ددې یواځینې علت دا رامخې ته شو چې هغه مخالفین چې د یوولسم سپتمبر له پېښې وروسته په فکري، ژبني، مسلکي او نورو اختلافونو له کبله پخپلو کې ویشل شوي وو، خپل ټول مخالفتونه یې شاته واچول او په څو شریکو نکتو متفق شول، مګر دهغوی په خلاف جنګېدونکی اتحادي او حلیفان هم پخپلو کې سره په لوبو اخته شول امریکا د پاکستان په خلاف له دوه مخیزه پالیسي نه کار واخست چې تر نه اخلي، دهغې په مقابل کې پاکستان هم همدغه لوبه په کار واچوله، امریکا د حامد کرزي له حکومت سره هم په صداقت ونه چلېد او کله یې هم هغه په اعتماد کې وانخست، بل لورې د افغانستان او پاکستاني چارواکو هم پخپلو کې د یو بل په خلاف د دښمنې رویه خپله کړه، پاکستان چارواکو د حامد کرزی حکومت په دې تورن کړ چې هغه د پاکستان احسان له یاده ویستلی او د پاکستان له دښمنانو سره دوستي کوي، مګر د افغانستان چارواکي پاکستان په دې تورنوي چې هغه له افغانستان سره ډبله لوبه ترسره کوي.

زموږ په څېر خلک چې په دغه اور کې ستي کېږي او شپه ورځ ددغې مسئلې د حل لپاره غور کوي په مسلسله توګه دا غوښتنه کوله چې پاکستان او افغانستان دې پخپلو کې له امریکا پرته نېغ په نېغه خپلې اړیکې ټینګې کړي او په دې توګه د نړۍ په وړاندې د حل معقوله لاره کېږدي، مګر نه پرویز مشرف دغه غوښتنې منلې او نه هم حامد کرزي، سهي خبره خو داده چې پرویز مشرف کله هم حامد کرزی ته کما حقه اهمیت او حیثیت ورکولو ته نه ؤ تیار شوې، هغه دا فکر درلود چې که هغه امریکا خوشاله وساتي نو امریکا پخپله حامد کرزی نېغولې شي، حامد کرزی هم ددې پر ځای چې د پاکستاني چارواکو شکایتونو ته پخپله ځواب ورکړي، واشنګټن ته شکایتونه کول تر څو د همدې له لارې پاکستاني چارواکي نېغ وساتي.

په کال ۲۰۰۷ کې حامد کرزي ماته بلنه راکړه چې ورسره وګورم، هلته د تللو نه مخکې مې یو کتاب (Imperial Hubris) له بازاره واخست او هغه مې د ملاقات په وخت کې حامد کرزي ته هدیه کړه، ما ددغه کتاب په لومړی پاڼه کې لیکلي و چې زه دا کتاب کرزی صاحب ته په دې مقصد هدیه کوم چې په غور سره یې ولولي او له پاکستان سره نېغ په نېغه د دوستي د ټینګولو کوښښ وکړي. ددې کتاب لیکونکی په افغانستان کې د خپلو حماقتونو او منفي عزائمو مفصله یادونه کړې، د کتاب د خصوصیت او ددې د متن په هکله مې له کرزی صاحب سره د خبرو په ترځ کې وویل چې پاکستان د افغانستان، او افغانستان د پاکستان مجبوریت دی، دواړه یو بل ته کلک ضرورت لري، له باندې نه چې کوم ځواکونه دلته راغلي دي ژر یا څه موده وروسته لدې سیمې نه تلونکي دي نو څکه پکار دي چې پاکستان او افغانستان د یو بل په خلاف د پیشو او موږک د لوبې پر ځای پخپلو کې واقعي او له اخلاصه ډک د دوستي اړیکې ټینګې کړي. هغه ته مې وویل تاسې او پرویز مشرف دواړه په دې تمه شپې سبا کوئ چې امریکا تاسې دواړه خپل دوستان ګني، په داسې حال کې چې هغه تاسې دواړه پخپلو

کې له یو بل سره جنګوي، څکه چې د پاکستان او افغانستان ترمنځ په جګړه کې ګټه دهغې ده. تاسې ولې د دومره نژدې فاصلې درلودلو باوجود د واشنګټن اوږده لاره استعمالوی؟ زما ددغو خبرو په ځواب کې کرزی صاحب وویل چې الله ګواه دی زه پاکستان خپل دویم کور ګڼم او له بل هر هېواد نه زیات له دې سره دوستي ته اهمیت ورکوم.

لدې وروسته هغه پاکستاني قیادت او مطبوعاتو په اړه د شکایتونو یو اوږد فهرست زما په مخکې کېښود، رښتیا خبره داده چې د ډېرو خواب له ماسره نه و.

دهغه له خبرو نه ماته دا اندازه وشوه چې د پرویز مشرف او پاکستاني مطبوعاتو رویه له هغه سره نامناسبه ده، کرزی صاحب ته هغه مرتبه او مقام نه ورکوي چې لري یې بلکې دهغه حامد کرزی په سرتګه ورته ګوري چې د هجرت په ورځو کې په کوټه کې هستوګن و، کرزی صاحب ګیله درلوده چې پاکستاني مطبوعات یوې خوا ماته دیو منتخب جمهور رئیس پر ځای د کابل ناظم اعلی (ښاروال) وایي او بل لورې مې په دې تورنوي چې زه دپاکستان په خلاف په سازشونو کې شریک یم.

د تېرو څو کلو راهیسې حامد کرزی او پاکستاني چارواکو ته دا حقیقت څرګند شو چې که هغوی نېغ په نېغه خبرې اترې ونکړي نو د امریکا په وساطت سره خبرې اترې به کله هم نتیجه ورنکړي. په افغانستان کې له ناکامي وروسته امریکا کوښښ وکړ چې له پاکستانه د قرباني ګډ جوړ کړي، بیا وروسته له حامد کرزی سره هم همدا سلوک پیل کړ.

کله چې حامد کرزی ولید چې د افغانستان په اړه د اوباما پالیسي د بش له پالیسي نه زیات پېچلې او خفه کوونکی دی نو هغه لویه جرګه راوغوښتله تر څو له مخالفینو سره د روغې جوړې لپاره لاره هواره کړي، امریکا د لوی جرګې په راغوښتو خفه وه، خو څرنګه چې د افغانستان په قانون کې لویه جرګه تر ټولو قوي مرجع ده امریکا په څرګند ډول دهغې د رابللو مخالفت نه شوه کولې، لوی جرګې پخپل په دې تاریخي پرېکړه کې له مخالفینو سره د روغې جوړې پرېکړه اعلان کړ، حامد کرزي د هوښیاري یو بل کار دا وکړ چې د سولې د عالي شورئ مشر استاد رباني وټاکه، د تېرو څو میاشتو راهیسې په انفرادي ډول له طالبانو او حزب اسلامي سره ډېرې اړیکي نیول شوي دي.

حامد کرزی به له پاکستانه غوښتنه کوله چې پاکستان او افغانستان دې د سولې ګډ کمیسیون جوړ کړي خو په لومړیو کې پاکستان ددغې تجویز منلو ته چمتو نه و، مګر هغه خپل دغه کوښښ جاري وساته، د تېرو څو میاشتو په اوږدو کې حامد کرزی د پاکستان د مطمئن کولو لپاره ډېری هلې ځلې وکړی بل لورې د امریکا بد سلوکی او بدرفتاري هم له دواړو هېوادو سره له حد نه واوښت چې له کبله یې د اپریل په شپږمه دواړو هېوادو د سولې د یو ګډ کمیسیون د جوړولو اعلان وکړ، زما د معلوماتو له مخې په دې باندې توافق څو میاشتې وړاندې شوې و خو د کرزی هیله دا وه چې د پاکستان پوځي مشرتابه او د آی ایس آی مشر دې هم په دې کې ګډون ولري.

کله چې د پاکستان د آی ایس آی مشر امریکا او ترکیې ته له سفر وروسته پاکستان ته راغي نو پاکستان د کرزی دغه هیله هم ومنله، تېره اوونی کله چې د پاکستان لومړی وزیر یوسف رضا ګیلانې او د آی ایس آی مشر کابل ته رروان شول نو لدېنه مخکې د ټولو کارونو په اړه فیصله شوې وه، که څه هم وړاندې داسې پرېکړه شوې وه چې د سولې ددغه ګډ کمیسیون مشری به د دواړو هېوادو خارجه وزیران کوي، مګر د حامد کرزي غوښتنه او تأکید دا و چې ددې مشري به د افغانستان ولسمشر او د پاکستان لومړی وزیر یوسف رضا ګیلانې په غاړه اخلي، له اعلان نه څو دقیقې وړاندې پاکستان د حامد کرزی دا غوښتنه او تجویز هم ومنلو.

که چېرته دغه پس منظر په نظر کې ونیول شي نو له مخالفینو سره د سولې لپاره د دواړو هېوادو د سولې ګډ کمیسیون یو مهم ګام او د بحران د حل لپاره یو مهم موړ ګڼلې شي. په دې سفر کې زه هم د پاکستاني وفد سره وم خو ماته له حامد کرزی او نورو چارواکو سره د خبرو اترو فرصت خو لاځه چې د دوه ګوتو ورکولو وخت مې هم ترلاسه نه کړ، مګر د دواړو هېوادو د ګډ کمیسیون د قیام لپاره چې د ګډ مطبوعاتي کانفرانس په وخت کې کله هم حامد کرزی ماته کتل نو په سترګو سترګو کې به په ډېر تفاخر سره ماته دا پیغام راکاو چې سلیم صافیه ! ستا په څېر خلکو یو هیله خو ترسره شوه اوس خو به خوښ شوی یې که نه؟ لیکن ما به هم هغه ته په زړه کې خواب ورکاو چې کرزی صاحب ! اوس هم ډېر پړاوونه پاتې دي، اوس به دېته کتلی شي چې آیا دا دوستي به حقیقي رنګ خپل کړي او که د تېر په شان به د پیشو او موږک لوبه جاري وي، اوس به دېته کتلی شي چې امریکا دواړو هېوادو مشرانو ته څومره واک او اختیار ورکوي او څومره به دهغې په خلاف خپل مقاومت ښایي، دېته به هم کتلی شي چې مخالفین ددې څه ځواب ورکوي او القاعدې په باره کې کومه لاره په مخ بیول کېږي؟

له ټولو نه مهمه دا چې امریکا، سعودي، برتانیا، ایران، ترکیه، روس او هندوستان په څېر لوبغاړي به ددې پروسې ملاتړ کوي او که څنګه به پکې ډنډه وهي او د ډنډه وهونکو سازشونه به څنګه شنډولې شي.

له زده کړو بې برخې کول مادي او معنوي غمیزه

محمد حسن حقیار haqyar@gmail.com

ددولتي سرچینو په وینا، سږ کال د لوړو زده کړو وزارت دولتي پوهنیزو موسسو ته د جذب په موخه، له شاوخوا ۱۲۰زره تنو څخه د کانکور ازموینه واخسته چې له دې ډلې څخه ۲۵۵۰۰ تنه د لوړو او څه باندې ۱۸زره نور د نیمه لوړو زده کړو دولتي موسسو ته بریالي او نور یې ناکام اعلان شوي دي.

دالومړی ځل ندی چې په افغانستان کې لسګونه زره زده کوونکي بې پایلې پاتې کېږي. بلکې دحامد کرزي په مشری درامنځته شوي حکومت په تېره لس کلنه دوره کې هر کال لسګونه زره ځوانان دسواداو پوهې له خواږه نعمته بې برخې پاتې کېږي.

سږ کال دزده کړو دولتي موسسو ته دجذب ظرفیت دپخوا په پرتله ډېر دی پخوا ایله شل پنځه ویشت زره زده کوونکي لوړو او نیمه لوړو زده کړو ته جذبېدل خو که په اوسنی شمېره بې هم قیا س کړو وینو چې هر کال یواځې په سلو کې شل زده کوونکیو ته د لوړو زده کړو زمینه برابرېږي. او په سلو کې اتیا ځوانان مو بې برخلیکه پاتې کېږي.

د افغانستان د اروابناد او تېر هېر اساسي قانون د دري څلوېښتمې مادې له مخې، زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی، چې تر لیسانس دورې وړیا د دولت له خوا تامینېږي.

دهمدې نادقیق او تقریبي قیاس له مخې اوس موږ یواځې دحامد کرزي ددورې اته سوه زره بې برخلیکه زده کوونکي لرو چې له شک پرته دادردوونکې شمېره اوستره غمیزه ده.

دې کار ټولنه د علمي کادرونو له کموالي سره مخ کړې او یوې غمیزې او پوهنیزې فاجعې ته لار هواره کړې ده.

د علمي کادرونو کموالی پر ټولنیزو، سیاسي کلتوري او اقتصادي فعالیتونوډېره ناوړه اغېزه کوي. حقیقت دادی چې د لوړو او نیمه لوړو زده کړو دولتي موسسو ته د جذب یاده کچه ډېره ټیټه او په هېڅ ډول زموږ دهېواد او دفارغو ځوانانو اړتیا وو ته ځواب نشي ویلی.

دولتي چارواکي کله پرافغان ولس اونړیوالو داحسان بارولو لپاره دمعارف اوسنی کچه دطالبانو له دورې سره پرتله کوي. پوښتنه داده چې آیا دطالبانو په دوره کې دومره مرستې وې؟ اوایا اوسنی کلنی دولتي بودیجه دطالبانو له دورې لس چنده لوړه نه ده.

که تاسې له طالبانو سره ځانونه پرتله کوئ نو، بیا هغوی ولې له معارف سره په دښمنی تورنوئ.

افغانستان یو وروسته پاتې هېواد او دنړی تربل هرهېواد لوست او پوهې ته ډېره اړتیا لري. ښایي دګوتو په شمېر داسې هېوادونه وموندل شي چې د نالوستی کچه او سلنه یې له افغانستان څخه ټیټه وي. وړاندې هم افغانان چندان دلوست په قدر او ارزښت نه پوهېدل اونه ورته چارواکیو دازمینه برابره کړې وه خوتېرو درې دېرش کلنو جګړو هم دافغانانو په نالوسته اوبېرته پاتې کېدلو کې مهم رول ولوباوه.

افغانستان رنګ او کنډواله هېواد دی او ترهرڅه ډېر بیارغونې ته اړتیالري. اوبیارغونه له پوهې او زده کړې پرته ناشونې ده.

ښایي بهرنی لاسونه هم دافغانانو په نالوسته پاتې کېدلو کې نیغ اویا دپردې ترشالاسونه ولري ځکه چې دافغانانو نالوستي ددوی په ګټه ده.، هغه کسان چې په بهرنیو هېوادونو کې سرکونه جارو کوي او یا په هوټل کې د لوښو وینځلو ظرفیت هم نلري دلته دمشاورینو په نوم راوستل کېږي او لسګونه زره ډالره معاش اخلي. نو که په افغانستان کې متخصصین او کارپوهان ډېر او یوواقعي ملي حکومت رامنځته شي. نو ښکاره ده چې ددوی کډې به له افغانستان څخه بار او هلته به بیا دپیازو اوکچالو په کرونده کې کار کوي.

دبهرنی لاسوهنې ترڅنګ دافغان حکومت بې کفایتي، کم ظرفیتي او د ولس دښمنه پالیسی فکتور هم دافغانانو د نالوسته پاتې کېدلو یو لامل دی.

داچې هر کال یواځې دکانکور یا په دولتي موسسو کې دجذب دظرفیت دنشتون له امله زموږ اتیا زره ځوانان نالوستي او کوڅه ډبې پاتې کېږي حکومت ددې بحران دتوجیه لپاره هېڅ معقول دلیل نلري.

ددولتي چارواکیو زامنو ته په بهرنیو هېوادونو کې په ډېر پرمختللو پوهنتونونو کې دزده کړې زمینه برابرېږي. افغانستان ته چې کوم زده کړیزبورسونه راځي هغه هم په ناانډوله توګه وېشل کېږي. دلوړو زده کړو فاشیست مشران یې پښتنو زده کوونکیو ته نه ورکوي ځکه پوهېږي چې د پوښتني یې څوک نشته اوټولې په خپلو کلیوالو او قومیانو وېشي.

دېو کار دنه ترسره کېدلو په وړاندې لوی خنډمالي ستونزې وي او له بده مرغه موږ په متواتره توګه اورو چې هر کال دافغانستان پراختیایي بودیجه بېرته مستردېږي چې دپوهنې او دلوړو زده کړو د وزارتونو بودیجه هم په همدې جمله کې ده. دابودیجه ددې لپاره وي چې پوهنتونونه او ښوونځي پرې جوړ اوډېر زده کوونکي جذب کړل شي، دادې څرګندویه ده چې موږبودیجه لرو خو زموږ په چارواکیو کې یا دکار استعداد او ظرفیت او یا هم د خدمت مینه او جذبه نشته.

ځوانان د ټولنې اصلي جوړوونکي او دملاتیر ګڼل کېږي، ځوانان دهېواد او ټولنې معماران، حال او راتلونکی دی. دځوانانو په رول او اهمیت سترګې پټول په حقیقتونو سترګې پټول دي که چېرې هر کال په لسګونه زره زده کوونکي بې پایلې اعلان او بې برخلیکه پاتې شي، نو ډېرې جبران نه منونکې پایلې او ناوړې اغېزې به ولري، ددې ځوانانو دبوختیا لپاره کار او روزګار هم نشته، افغان حکومت دبې دریغه بهرنیو مرستو برسېره بیا هم افغانانو ته کاري زمینې نه دي برابرې کړې نو هرومرو به دوی ناامني رامنځته کوي، د نشه یې توکیو قاچاق او استعمال ته به مخه کوي. او یا هم مجبور دي چې په قاچاقي لارو بهرته دوتلو تکل وکړي چې په پایله کې یې ددوی سر او مال دواړو ته خطر دی.

له لوړو زده کړو دځوانانو بې برخې کول دهغوی دنهیلي او دروحیاتو دماتولو په معنی دی

نو حکومت ته په کار دي چې نور دسوی (خرګوش) له خوبه راپاڅېږي، دې جدي ستونزې ته جدي حل ولټوي او په دې اړه دې له واقعي کارپوهانو او متخصصینو سره مشوره وکړي له خان جوړو او دپردیو لخوا دټپل شویوتش په نوم کارپوهانو سره نه او پدې اړه دې معقوله او شفافه اوږد مهاله ستراتیژي جوړه کړي. یواځې کمیت (څومره والي) ته توجه هم درد نه دوا کوي بلکې ترڅنګ یې کیفیت (څرنګوالي) ته هم پام ډېر اړین دی.

یواځې دزده کړو زمینه نه، بلکې دولت باید اوزګارو نالوستو ځوانانو ته حرفوي کورسونه هم جوړ کړي.

د ولایتونو په دولتي پوهنتونونو کې دې پوهنځي ډېر او ځینې داسې انستیتوتونه دې جوړ شي چې لږ لګښت ته اړتیا لري.

په مرکز او ولایتونو کې دې د شپې پوهنځي جوړ او د لوړو زده کړو په برخه کې دې ځوانانو ته داسې لارې چارې برابرې کړ ل شي، چې له لرې هم د مخابراتي وسایلو (انټرنټ) له لارې زده کړې وکړل شي.

ډېر کسان په خصوصي پوهنتونونو کې د اقتصادي ستونزو له امله زده کړې نه شي کولای، پدې نادولتي موسسو کې له ۳زرو تر ۱۷زرو افغانیو میاشتنی فیس اخیستل کېږي.

حکومت هم دخصوصي پوهنتونونو دکنترول لپاره هم هېڅ پلان نلري او په دې اړه رشوت، روابط او شخصي اړیکې هم بې اغېزې ندي.

د ثور اتمه

.... موږ افغانان باید دا واقعیت ومنو چې اوسنی زمانه د ساینس، کمپیوتر او ټکنالوژۍ زمانه ده، هر څه بدل شوي دي، د ژوند معیارونو تغیر موندلی د جنګونو تاکتیکونه بدل شوي دي، اوس د زر ګونو کیلومتره په فاصله کې جنګ رهبري کېږي، بې پیلوټه الوتکې او رهبري شوي توغندي ایجاد شوي دي. ددې مقابلې لپاره باید موږ هم د ساینس او ټکنالوژۍ په ډګر کې پرمختګونه وکړو، زموږ دین موږ ته دا ښودلي دي چې د خپل دښمن د مقابلې لپاره خپل ټول توان په کار واچوو. لنډه دا چې موږ افغانان باید دا حقیقت درک کړو چې تر څو پورې دا دنیا قائمه وي د حاسدو، ظالمو او پراختیا غوښتونکو هېوادونو له پوخي، فکري، سیاسي، اقتصادي، ساینسي او ... نورو یرغلګرونو څخه به امن نه شو پاتې کیدلی.

د یو هېواد له فزیکي او فکري غلامی نه به مو نجات نه وي ترلاسه کړې چې بل هېواد به زموږ هر اړخیز استقلال ګواښي. لدېنه د دوامدار خلاصون یواځینی لاره داده چې موږ افغانان په لومړی ګام کې د اسلام په سپېڅلې عقیده سنبال شوو خپل ملي وحدت تأمین کړو، ټول اختلافات شاته کړو او پخپلو کې د ورورۍ او یووالي لاسونه ورکړو، موږ صرف د قوي ایمان او ملي وحدت له لارې کولې شو چې خپل اقتصاد پیاوړی او لدې لارې د نوي عصر ټول ضروریات او ټکنالوژي ترلاسه کړو. که موږ د ثور اتمه په دې خاطر نمانځو چې کمونسټ رژیم مو نسکور کړی، که موږ په دې ورځ خپلو لکونو شهیدانو روحونو ته په دې خاطر د تحسین او عقیدت ګلونه وړاندې کوو چې هغوی د خپلوسینو په ډال کولو سره د افغانستان د خلکو د عقیدې او استقلال دفاع کړې نو د خپلو مسؤولیتونو په اړه هم باید ژور فکر وکړو او له خپلو ضمیرونو څخه وپوښتو چې آیا موږ هم خپل ایماني، اخلاقي او افغاني مسؤولیت په ربښتیا ترسره کړی دی او که نه؟ آیا موږ دهغو پنځلسو لکو شهیدانو ارمانونو ته مو تحقق ورکړېدی چې له امله یې خپلې ککرۍ یې ندرانه کړي دي؟! په الله قسم چې یوازې د ثور د اتمې په نمانځلو او د.شهیدانو روحونو ته د عقیدت د ګلونو په وړاندې کولو سره نه خپل ایماني او افغاني مسؤولیت ترسره کولې شو او نه هم دهغوی روحونو ته خوشالي بخښلې شو.

که موږ واقعاً د خپل هېواد او عقیدې دفاع کول غواړو نو له دې پرته بل هېڅ لاره نه لرو چې د تشو خبرو اترو او غولوونکو شعارونو پر ځای عملاً پخپلو کې د یووالي او ورورولی کلک لاسونه ورکړو، ټول له ځانه جوړ شوي جعلي او بې بنسټه اختلافات شاته کړو، د یو سوچه اسلامي حکومت د قیام لپاره میدان ته ودانګو، خپل اقتصاد پیاوړی او د خپلې خاورې د دفاع لپاره د نوی زماني موثر وسائل او ټکنالوژي ترلاسه کړو، د بل چا د هر اړخیز غلامی زنځیرونه وشلوو، د محتاجي او ګدایي کچکولونه مات او پخپلو پښو ودرېږو. تر څو پورې مو چې د عمل په ډګر کې له خپل دین، هېواد او ولس سره د مینې ثبوت نه وي وړاندې کړي د ثور اتمه نمانځل زموږ یو مشکل هم نه شي کمولی. راځئ د زمکني حقایقو په نظر کې نیولو سره واقعیتونه درک کړو، دهغه څه په لور عملي ګامونه اوچت کړو چې د استقلال او خوشال ژوند ضمانت راکوي او تل لپاره مو د ذلت او غلامي له ژوند څخه خلاصوي.

که الله مکړه د پخوا په څېر خپل مسؤولیت ترسره نه کړو او دعملي ګامونو د اوچتولو پر ځای پر تشو شعارونو بسنه وکړو نو دا خبره دې دکاڼې کرښه وګڼو چې موږ پخپل لاس خانو ته قبرونه کنو او پخپل لاس د غلامي زنځیرونه په غاړه کوو.

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(دیارلسمه برخه)

س۲۴۷: د مدینې منورې لومړی أمیر څوک و؟

ځ: سُهَیل د حنیف زوی او علي رضي الله عنه ورته دا دنده سپارلې وه.

س۲۴۸: چا د لومړي ځل لپاره د قسطنطینیه دروازه د ازادولو په موخه په توره و وهله؟

ځ: عبد الله د کُلَیب زوی لومړی کس و چې دا کار یې وکړ او په دې سره یې د قیصرانو په زړونو کې ویره واچوله، نو هغه یې بندي کړ او د وژنې نیت یې د دې وکړ، عبد الله ورته و ویل: که زه مو و وژلم نو هیڅ نوعه وعده به په اسلامي دولتونو کې په ځاي پاتې نه شي، ټول نصرانیان به و وژل شي او عبادت ځایونه به یې وران شي، کله چې قیصر دا تهدید واورید نو عبد الله یې ازاد کړ.

س۲۴۹: د مسلمانانو د فاتحینو نه لومړی چا د بلخ د سیند آخواته لمونځ وکړ؟

ځ: د عمرو زوی حکم.

س۲۵۰: د مسلمانانو د فاتحینو نه لومړی چا د بلخ د سیند اوبه و څکلې؟

ځ: د حکم ازاد شوي غلام.

س۲۵۱: د عثمان د زوي سعید د ملګرو نه څوک لومړی د بلخ د سیند نه تیر شو؟

ځ: رفیع ابو عالیه لومړی سړی و چې دا کار یې وکړ.

س۲۵۲: د مدینې منورې لومړی قاضي څوک و؟

ځ: عبد الله د نوفل زوی.

س۲۵۳: د بصرې لومړی قاضي څوک و؟

ځ: ایاد د صبیح زوی، د محرش لمسی، چې په ابو مریم حنفي باندې یادیده، او داهم ویل شوي چې سلمان د ربیعه زوی و او دا هم ویل شوي چې کعب د سور زوی و.

س۲۵۴: د کوفې لومړی قاضي څوک و؟

ځ: ویل شوي چې، سعید د مالک زوی او دا هم ویل شوي چې، جبیر د مطعم زوی او دا هم ویل شوي چې ابو قره کندي و.

س۲۵۵: چا لومړی په فقه کې کتاب لیکلی؟

ځ: امام مالک د انس زوی.

س۲۵۶: چا لومړی په علم کلام (منطق) کې کتاب لیکلی دی؟

ځ: ابو حذیفه واصل د عطاء زوی لومړی هغه څوک و چې په علم کلام کې یې کتاب لیکلی دی.

س۲۵۷: چا لومړی په غریب قرآن (نا اشنا الفاظ) کې کتاب لیکلی دی؟

ځ: ابو عبیده معمر د مثنی زوی.

س۲۵۸: د چا لاس د لومړي ځل لپاره د غلا په جرم کې غوڅ شوی دی؟

ځ: د مخزوم د قبلې د سفیان لور چې قلابه نومیده لاس لومړی د غلا په جرم کې غوڅ شوی دی.

س۲۵۹: لومړی ښځه څوک وه چې مدینې منورې ته یې هجرت وکړ؟

ځ: ام سلمه، محکې له هغې چې د پیغمبر علیه السلام سره واده وکړي، او دا هم ویل شوي چې لیلی د ابي خیثمه لور وه.

س۲۶۰: لومړی پیغله چې هجرت یې وکړ څوک وه؟

ځ: د عقبه لور، ام کلثوم

س۲۶۱: چا د لومړي ځل لپاره جامې وګنډلې؟

ځ: ادریس علیه السلام، په داسې حال کې چې په هغه وخت کې خلکو پوستکې اغوستل، او دا د دې معنا ورکوی چې اسلام خلک د کسب زده کولو ته هڅوي.

س۲۶۲: چا د لومړي ځل لپاره ګنډل شوي جامې اغوستې دي؟

ځ: ادریس علیه السلام د خپل لاس ګنډل شوي جامې د لومړي ځل لپاره اغوستې، او زمونږ په شان یې له دوښمنانو نه جامې نه راغوښتلې.

س۲۶۳: چا د لومړي ځل لپاره پرتوګ اغوستی دی؟

ځ: ابراهیم علیه السلام، او دا ځکه چې د اسلام مقدس دین په عورت پټولو او سنګینې باندی اصرار کوي.

س۲۶۴: چا د لومړي ځل لپاره صابون جوړ کړ؟

ځ: آدم علیه السلام، ځکه چې اسلام په پاکوالي باندې امر کوي.

س۲۶۵: چا د لومړي ځل لپاره کاغذ جوړ کړ؟

ځ: یوسف علیه السلام، او دا ځکه چې هغه اسلام چې یوسف علیه السلام ورته دعوت کولو په صناعت)جوړولو(امر کولو.

س۲۶۶: څوک د لومړي ځل لپاره په آس باندې سپور شو؟

ځ: اسماعیل علیه السلام لومړی شخص و چې په آس سپور شو، دا آس په اصل کې وحشي آس و یوسف علیه السلام د سپریدو لپاره تربیه کړ، او دا کار یې ځکه وکړ چې اسلام له دښمن سره د مخامخ کېدو لپاره د قوت په جوړولو امر کوي.

س۲۶۷: د چا لښکر د پیغمبر علیه السلام د وفات نه وروسته د لومړي ځل لپاره د مدینې منورې نه و ووت؟

ځ: د أسامه لښکر.

س۲۶۸: چا د لومړي ځل لپاره د (اطال الله بقاء ک) جمله و ویله؟

ځ: عمر رضي الله عنه، کله چې علي رضي الله عنه خبري وکړي نو عمر رضي الله عنه ورته و ویل رښتیا دي و ویل، الله دې ستا عمر زیات کړي.

(نور بیا)

ویکی لیکس اسناد تازه ای را در مورد زندان گونتانامو پخش کرد

رسانه ها:
بر اساس هزاران صفحه، که توسط سایت انترنتی ویکی لیکس پخش شده، اکثر افرادی که در زندان نظامی گونتاناموبی باقی مانده اند، اشخاص خطرناک بوده، در صورتیکه رها شوند، تهدید جدی را متوجه امریکا و متحدین آن خواهند ساخت. پخش ۷۰۰ سند مختلف در مورد زندان گونتاناموبی که در زمان اداره رییس سابق امریکا جورج دبلیوبوش به خاطر نگهداری از بازداشت شده گان جنگ با تروریزم، ساخته است، به روز یکشنبه باعث نکوهش شدید از جانب قصر سفید امریکا شد.

قصر سفید می گوید، این اسناد دارای اطلاعات حساس از طریق غیر قانونی به دست آورده شده اند.

اسناد تازه پخش شده، بخشی از اسنادی اند که توسط ویکی لیکس به سلسله اسناد در مورد جنگ های افغانستان و عراق و چینل های محرم وزارت خارجه امریکا پخش می شود. برادلی مانینگ (Bradley Manning) کارمند نظامی امریکا به اتهام افشای این اسناد در انتظار محکمه بسر می برد. وی متهم به ارتکاب حدود ۲۴ جرم به شمول مساعدت به دشمنان امریکا می باشد.

با وصف آن که تا اکنون در مورد اینکه با زندانیان در گونتاناموبی چگونه برخورد می شود؟ گزارش های نشر شده است، معلومات تازه پخش شده، تهدید های را شامل می شود که زندانیان گفته اند، در صورتیکه رهبر القاعده اسامه این لادن دستگیر و یا کشته شود، آن شبکه «توفان جهنمی» اتمی را بر ضد غرب براه خواهد انداخت.

اسناد همچنان نشان می دهد که ده ها زندانی بی گناه ثابت شده، ولی برای مدت های طولانی در آن زندان نگهداشته شده اند. در مورد صد ها تن دیگر که جنگجویان پایین رتبه بوده اند، از متود های تهاجمی تحقیق کار گرفته شده است.

برخی دیگر مانند ابوسفیان ابراهیم احمد اموده ابن قومو که تاریخچه جهاد بر ضد شوروی در افغانستان و آموزش در دو کمپ القاعده را دارد و از زندان گونتاناموبی رها شده، اینک در لیبیا به آموزش شورشیان مشغول می باشد.

اکنون در زندان گونتاناموبی ۱۷۲ تن باقی مانده اند، که اشخاص خطرناک بوده، یک تهدید جدی برای امریکا و متحدین آن محسوب می شوند. تا اکنون ۶۰۰ تن از زندان گونتاناموبی آزاد شدند. ۲۰۰ تن آن ها در آن زمان خطرناک محسوب شده بودند، ولی با وصف آن رها شدند. اینک اکثر آن ها دوباره به جنگ ها پیوسته اند. اسناد تازه پخش شده حاوی معلومات جدید در مورد خالد شیخ که ادعای برنامه ریزی حادثه ۱۱ سپتامبر را می کند، عبدال رحیم پلان کننده حمله بر کشتی نظامی امریکا در سال ۲۰۰۰ در یمن و محمد قتانی نیز می باشد.

وزارت داخله افغانستان رقم دقیق سربازانش را نمی داند

کابل، رسانه ها:
دفتر سر مفتش خاص امریکا در امور بازسازی افغانستان می گوید: حکومت این کشور رقم دقیق کسانی را که در قوای پولیس خدمت می کنند، نمی داند.

آژانس خبری رویترز می نویسد، این نهاد روز دوشنبه در یک گزارشی، اداره و سیستم پرداخت معاش به قوای پولیس ملی را که اساساً توسط ایالات متحده امریکا و سایر کشورهای کمک دهنده تمویل می شود، مورد سوال قرار داده است.

دفتر سر مفتش خاص امریکا برای افغانستان گفته است، حکومت افغانستان بخاطر رقم دقیق پولیس ملی را تشخیص کرده نمی تواند که قادر به وفق دادن سوابق پرسونل پولیس در چهار سیستم مختلف ثبت اسناد نیست.

این اداره گفته است که در حال حاضر افغانستان در نظر دارد که تعداد قوای پولیس را تا ماه اکتوبر به ۱۳۴ هزار تن برساند.

این در حالیست که به گفته مقامات وزارت داخله افغانستان رقم قوای پولیس در این کشور به بیش از ۱۲۴ هزار تن می رسد.

هفت تانکر تیل نیروهای ناتو حریق گردید

غزنی، پژواک:
طالبان مسلح، هفت تانکر تیل نیروهای ناتو را در منطقهٔ روضه در مرکز غزنی، به آتش کشیدند.

سمونوال زرور زاهد قوماندان امنیهٔ غزنی، به تاریخ ۶ ثور به آژانس خبری پژواک گفت که شب گذشته، پنج تانکر تیل نیروهای ناتو در منطقهٔ روضه حریق گردیده و تحقیقات در مورد چگونگی رویداد، ادامه دارد.

یک راننده به نام شاآغا که موتر تانکرش، شب گذشته از طرف طالبان حریق گردیده، گفت که هشت میلیون افغانی به شمول بار و موتر، خساره دیده است.

نامبرده علاوه نمود که هفت تانکر تیل به شمول موتر وی، کاملاً حریق گردیده است.

جمعه گل یک تن از باشنده گان محل گفت هفت تانکر که برای نیروهای ناتو تیل انتقال می دادند، شب گذشته در بازار نزدیک قریه، متوقف بودند.

موصوف افزودکه طالبان مسلح، ساعت ۱ شب، دست و پای چوکیدار بازار را بسته و تمام تانکرها را آتش زدند.

به گفتهٔ موصوف، یک ساعت بعد اطفائیه به محل آمد؛ اما تا آن زمان تمام هفت تانکر حریق شده بودند.

مولوی حبیب یکتن از قوماندانان ساحوی طالبان مسلح در غزنی، به آژانس خبری پژواک گفت که شب گذشته، هفت تانکر تیل نیروهای ناتو را کاملاً حریق نموده اند.

قریهٔ روضه در هفت کیلومتری شمال شهر غزنی در مسیر شاهراه کابل –کندهار موقعیت دارد، که قبل از این در آن چنین واقعه ای صورت نگرفته بود.

والی کندهارمیگوید که ...

امنیتی به منزلی ، که از آن تا زندان تونل کشیده شده بود ، رسیده اند .

به گفتهٔ ویسا در این منزل، ماینها جابجا شده و از آن واسکتهای انتحاری مملو از مواد منفجره بدست آمده است .

والی گفت که تمام زندانیان فراری به وسیله سیستم بایومتریک کمپیوتر ثبت گردیده ، که این کار در دستگیری دوباره آنها کمک خواهد کرد .

توریالی ویسا پذیرفت که ارگانهای امنیتی در این کار غفلت نموده اند .

قاری یوسف احمدی سخنگوی طالبان به آژانس خبری پژواک گفت که برای پنج ماه کندنکاری تونل به طرف زندان، از مصافه ۳۶۰ متری جنوب زندان آغاز گردیده بود .

وی علاوه نمود که حدود ۵۴۱ زندانی طالب، از ساعت دوازده الی دو شب گذشته به فرار از زندان مؤفق شده اند .

احمدی میگوید که ۱۵۰ قوماندان نیز شامل زندانیان فراری میباشند.

به گفتهٔ موصوف ، تمام زندانیان به شمول مجروحین ، مریضان و زندانیان ضعیف خارج گردیده و هیچ زندانی در بخش سیاسی زندان باقی نمانده است .

سخنگوی طالبان علاوه نمود که برای نظارت این پروسه، تعداد زیاد طالبان را در اطراف زندان جابجا نموده بودند ..

امریکایي مقاماتو آی ایس آی ...

سندونه خپاره کړي، د ګوانتنامو د اوو سوو بندیانو د تحقیق د لنډیز په شمول د ګوانتنامو د ۲۰۰۷ کال اسناد افشا کړي دي.

اسوشتید پریس خبري اژانس وايي د پاکستان استخباراتي اداري آی ایس آی د دوشنبې په ورځ په دې اړه له څه ویلو ډډه وکړه خو دې اداري مخکې له سخت دریځو ډلو سره هرراز ارتباط بیا بیا رد کړی دی.

آی ایس آی او همداراز د ایران استخباراتي اداري د ګوانتنامو د مستنطیقانو په هغه لیست کې یادې شوې چې د شپږو نړیوالو وسله والو ډلو نومونه پکې ذکر دي.

د ګوانتنامو د مستنطقانو له لوري په یوه برابر شوي لاربښود کې ویل شوي دا تروریستي یا په تروریستانو پوري تړلې موسسې دي.

په لاربښود کې همداراز ویل شوي چې له دوی سره تړلو بندیانو احتمالاً له القاعده او طالبانو سره همکاري کړې او یا یې هم د امریکا او ایتلافي ځواکونو پرضد په عملیاتو کې رول لرلی دی.

سي آی اې او آی ایس آی پر امریکا د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمې نېټې له حملو وروسته د القاعده شبکې د غړیو، چې په پاکستان کې پټ دي، د موندلو لپاره نژدې همکاري کړې ده.

خو په داسې حال کې چې امریکا او پاکستان په ظاهره وايي چې د سخت دریځو پرضد یې لاسونه یو کړي، امریکایي چارواکي اکثره وخت د پاکستان د آی ایس آی په اداره کې د یوشمېر عناصرو په باره کې شک څرګندوي او وايي چې احتمالاً هغوی د وسله والو سخت دریځو ډلو ملاتړ کوي او یا ورسره اړیکې پالي.

د امریکا او پاکستان د استخباراتي ادارو ترمنځ اړیکې سږکال د سي آی اې د یوه قراردادي له لوري د دوو پاکستانیانو له وژل کېدو وروسته خرابې شوې.

له دې پېښې وروسته آی ایس آی د افغانستان پولو ته نژدې په قبایلي سیمو کې د امریکا د بې پیلوټه الوتکو د حملو په باب شکایت وکړ او د هغو د بس کېدو غوښتونکی شو. پاکستان همداراز وویل چې د سي آی اې ډېر ایجنټان، بې له دې چې پاکستاني چارواکي خبر کړي، د دغه هیواد په خاوره کې فعالیت کوي.

د آی ایس آی او وسله والو سخت دریځو ترمنځ د اړیکو سابقه نولس سوه نوي یمې لسیزې ته رسېږي، هغه وخت چې د امریکا متحدو ایالتونو د شوروي اتحاد د سرو لښکرو پرضد په افغانستان کې د افغان مجاهدینو ملاتړ کاوه.

په وروستیو کې یوشمېر شنانډي وایي، پاکستان غواړي چې له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د وتلو په صورت کې د افغانستان د حکومت د وسله والو مخالفو ډلو قوماندانان د بالقوه متحدانو په توګه ملګري وساتي.

بارک اوباما با مقامات ارشد ...

کارشناسان غربی می گویند: این نشانه بیانگر آن است که آغاز خروج سربازان امریکایی در ماه جولای از افغانستان تا حد زیاد سمبولیک خواهد بود، اما در عین حال امریکا و متحدین آن به انتقال مسوولیت های امنیتی به قوای افغان بیشتر توجه خواهند کرد.

مقامات امریکایی به شکل تدریجی مساله خروج سربازان از افغانستان را سرد ساخته اند و به عوض آن روی این موضوع تاکید دارند که بخش اعظم سربازان امریکایی در سال ۲۰۱۴ از افغانستان خارج خواهند شد.

پایان سال ۲۰۱۴ زمانی است که بر اساس توافق لیزبون مسوولیت های امنیتی به طور کامل به قوای افغان سپرده خواهد شد.

د پکتیا والي جمعه خان همدرد ...

د پکتیا د عامې روغتیا رییس نادر نادري پژواک ته وویل، چې روغتون ته درې پولیس او یو ملکي تن، چې ټپیان دي، راوړل شوي دي .

د نومونړي په وینا، د ټپیانو روغتیایي حالت د ډاډ وړی دی.

د پېښې یو عیني شاهد احمدالله وايي، چې د والي جمعه خان همدرد موټر ولایت ته د ننوتو په حال کې و، چې د ساتونکیو پر وروستي رېنجر موټر یې چاودنه وشوه.

هغه وویل، چې په دې پېښه کې درې پولیس ټپیان شول.

ولسي جرګې د روان کال ...

سطح لومړیتوبونو ته نه پاملرنه او د جمهوري ریاست په څیر ځینو دولتي ادارو ته د ډېرې بودیجې ځانګړي کول له مهمو ستونزو څخه دي.

د ولسي جرګې رییس عبدالروف ابراهیمي د روان لمریز کال د ملي بودیجې د رد په اړه د دې جرګې د غړو پریکړه داسې اعلان کړه:
"د مالیې وزارت د ولسي جرګې د یو شمېر غړو هغه نظرونه او وړاندیزونه چې یې تېر ځل درلودل په پوره توګه په پام کې ونه نیول نو ځکه نن د ولسي جرګې غړو یو ځل بیا دا بودیجه د رایو په اکثریت رد کړه ".

د روان لمریز کال لپاره د افغانستان د مالیې وزارت له خوا کابو دوه سوه اولس میلیارده افغانۍ په پام کې نیول شوې چې څه باندې یونیم سل میلیارده یې عادي او څه باندې پنځه شپېته میلیارده یې پراختیایي بودیجه ده.

د مالیې وزارت د ولسي جرګې له خوا د دوهم ځل لپاره د روان کال د ملي بودیجې ردول ناسمه پریکړه بولي او وایي چې له دې سره به د ځینو مهمو پروژو په عملي کول کې ځنډ راشي.

د مالیې وزارت له خوا د ۱۳۹۰ لمریز کال ملي بودیجه د تېر کال د حوت یا کب په میاشت کې ملي شورا ته واستول شوه، چې د مشرانو جرګې له خوا تر تصویب وروسته ولسي جرګې پرې بحث وکړ او په لومړي ځل یې دا بودیجه د ډېرو نیمګړتیاوو له امله نږدې یوه میاشت مخکې رد او نوموړي وزارت ته د اصلاحاتو لپاره واستوله.

د مالیې وزارت د ولسي جرګې د غړو له خوښې سره سم په دې ملي بودیجه کې ځینې اصلاحات او تغییرات راوستل او بیا یې دې جرګې ته د تصویب لپاره ولېږله.

خو ولسي جرګې یو ځل بیا د روان لمریز کال د ملي بودیجې په اړه د مالیې وزارت د خوښې او تمې په خلاف پریکړه وکړه، خو په دې لړ کې ځینې داسې اندېښنې شته چې د ۱۳۹۰ لمریز کال د ملي بودیجې د تصویب له ځنډېدو سره ښایي د افغانستان په سطح د ځینو وزارتونو او دولتي ارګانونو کارونه هم وځنډېږي.

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۶۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوي مطالب نه مستردېږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com